# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



ادیت پیاف

ژباړه: فرهاد ویاړ


## تول شیان به سم شي

آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
اشرافان د دار پر سر دي
آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
مونږ به اشرافان په دار ووهو
دری سوه کاله کیږی چې مونږ سره د دوډۍ ژمنه کوي
دری سوه کاله کیږي چې  جشن نیسي
او فاحشي ساتي
دری سوه کاله کیږي چې مونږه ځپي
دروغ او چټیات وایي
چې مونږ به نور له ولږی مړه نشو

آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
اشرافان د دار پر سر دي
آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
مونږ به اشرافان په دار ووهو

دری سوه کاله کیږي چې
د شپیلو او ډولونو له آوازونو سره جنګیږي
او مونږ پریږدي چې له بدمرغی څخه هلاک شوو

دا به د همیش لپاره دوام ونکړي
درى سوه کال کيږي چي له مونږه سړي اخلي
او له مونږ سره د بارکشه حيوانانو په شان چلند کوي
دا به د همیش لپاره دوام ونکړي

آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
اشرافان د دار پر سر دي
آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
مونږ به اشرافان په دار ووهو

مونږ به تاسو مجازات کړو
ځکه چي خلک خپل حقوق بيرته تر لاسه کوي
تاسو په ښه ډول زمونږه ځواک کاروى
نور نه هر څه پاى ته رسيدلي، ښاغليو پاچاگانو
نور نو په مونږه حساب مه کوى
مونږ به ستاسو سرونه پرى کړو
ځکه چي اوس مونږه فرمان ورکوو.

آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
اشرافان د دار پر سر دي
آه، ښه به شي، ښه به شي، ښه به شي
مونږ به اشرافان په دار ووهو